Khyber Pakhtunkhwa
Rural Investment and
Institutional Support Project

# د چاپېریال او ټولنیز مدیریت پلان لنډیز

## ( د خیبر ضلع لپاره مربوط د اوبو رسولو او حفظان‌الصحت / سینیټیشن)

د وفاقي مدیریت لاندې قبایلي سیمو (FATA) د خیبر پښتونخوا (KP) سره له انضمام وروسته، د خیبر پښتونخوا حکومت (GoKP) د نړیوال بانک په همکارۍ د خیبر پښتونخوا کلیوالي پانګونې او اداري ملاتړ پروژه (KP-RIISP) پیل کړې ده. دا اقدام د حکومت د قبایلي لسیزې ستراتیژۍ 2020–2030 (TDS) سره سم دی، چې بنسټیز هدف یې د خلکو پر اړتیاوو ولاړ خدمات وړاندې کول او د ادارو اصلاحات دي. د خوندي څښاک اوبو او مناسب حفظالصحت ته لاسرسی د عامې روغتیا او پایدارې پرمختیا لپاره بنسټیز اهمیت لري. د KP-RIISP تر چتر لاندې د عامې روغتیا انجینرۍ څانګه (PHED) د نویو مدغم شوو ضلعو (NMDs) کې د اوبو رسولو او حفظالصحت بېلابېلو سکیمونو د پلي کولو مسؤلیت لري. د دې پروژې هدف دا دی چې د خیبر پښتونخوا د څښاک اوبو او حفظالصحت له پالیسو سره سم د اوبو رسولو او حفظالصحت خدماتو د ښه کولو لپاره یو منظم او ستراتیژیک چوکاټ رامنځته شي. په دې کې د محلي کچې ګډونوال حکومتولي، د ادارو پیاوړتیا، او د تصمیم نیونې په بهیر کې د ښځو توانمندسازي ته ځانګړې پاملرنه شوې ده.

د KPRIISP تر لاندې د "مربوط د اوبو رسولو او حفظالصحت – د موجوده څښاک اوبو سکیمونو بیا رغونه، تحصیل باړه، جمرود، لنډي کوتل او ملاګوري، ضلع خیبر" په نوم فرعي پروژه کې ټولټال ۲۱ حکومتي د څښاک اوبو رسولو (DWS) سکیمونه د بیا رغونې او سولرایزېشن لپاره پېژندل شوي دي. له دې ۲۱ سکیمونو څخه ۱۱ سکیمونه د حفظالصحت له برخې سره تړاو لري، په داسې حال کې چې پاتې ۱۰ سکیمونه د دې فرعي پروژې برخه نه دي ځکه چې هغوی د نورو نویو حفظالصحت سکیمونو تر پروژو لاندې شامل شوي دي.

د بیا رغونې او سولرایزېشن اصلي هدف دا دی چې د موجوده د اوبو رسولو سکیمونو مؤثر فعالیت او عملیاتي وړتیا یقیني شي، څو د پروژې تر اغېز لاندې سیمو کې ټولو کورونو او عامه ځایونو (مساجد، بازارونه، ښوونځي او نور) ته د اوبو دوامداره رسونه ممکنه شي. د بیا رغونې په کارونو کې سول، میخانیکي او برېښنایي فعالیتونه شامل دي لکه د پمپ ماشینري، مایکرو کنټرولر یونټ(MCU) ، بشپړ سولر سیسټم PV) پینلونه، چارج کنټرولر/انورټر او نور وسایل(، د ځمکې لاندې او لوړ ذخیره اوبه ټانکونه، د رسولو او وېش پایپ لاینونه (د موجوده پایپونو ترمیم)، پمپ روم/چیمبر، چوکیدار هټ او د احاطې دېوال جوړول، او د ودانیز او ساختماني ارزونې چارې.

د اوبو او حفظالصحت دا مربوط سیستم یوازې د فزیکي زیربنا تر بیا رغونې محدود نه دی، بلکې د اوبو رسولو او حفظالصحت د سیستمونو ترمنځ اړیکه هم په پام کې نیسي. هدف دا دی چې که د ښه اوبو رسولو له امله فاضله اوبه زیاتې شي، نو د هغوی د خوندي راټولولو، لېږد او تصفیې مناسب نظام هم موجود وي. د اوبو رسولو سکیمونو بیا رغونه د حفظالصحت له پلان جوړونې سره همغږي د روغتیایي خطرونو کمولو، د چاپېریال د ککړتیا مخنیوي او د انرژۍ موثر او د اقلیمي بدلونونو سره مقاومت لرونکو خدماتو د وړاندې کولو فرصتونه رامنځته کوي. د حفظالصحت برخه کې د اړوندو ۱۱ سکیمونو په شاوخوا کې د کورونو لپاره د سیپټیک ټانکونو، سوکج پټو او د فاضله اوبو د نلونو (سیوریج لاینونو) جوړول شامل دي.

د چاپېریال او ټولنیز مدیریت پلان (ESMP) د نړیوال بانک د چاپېریالي او ټولنیز چوکاټ (ESF) او د خیبر پښتونخوا د چاپېریال ساتنې قانون 2014 سره سم د خطرونو د کمولو لپاره مخکیني اقدامات تضمینوي. په دې موخه د تحصیل په کچه د مهمو ضلعوي شریکانو مشورتي غونډه ترسره شوې چې پکې د ساحې د لاسرسي، خوندیتوب او پایدارۍ ارزونه وشوه. د چاپېریال ساتنې اقداماتو کې د کثافاتو مدیریت، مناسب د اوبو د وتلو سیستم، او د ځایي ونو زیات کښت شامل دي ESMP .کې د ټولنې له لارې دوامداره مشورې او د شکایتونو د حل میکانیزم (GRM) هم شامل دی چې د ټیلیفون، ایمیل یا حضوري اړیکې له لارې لاسرسی لري.

ESMPد ممکنه چاپېریالي او ټولنیزو خطرونو لپاره یو منظم چوکاټ وړاندې کوي، چې پکې د خطرونو د کمولو اهداف، د مسؤلیتونو وېش، او د سرچینو مناسب تخصیص شامل دي. د ډیزاین او مخکې له جوړونې په پړاو کې د پایدار د اوبو لښرد پلان، د جامدو کثافاتو مدیریت او د روغتیا او خوندیتوب تفصیلي تدابیر شامل دي. د جوړونې په پړاو کې د هوا او اوبو ککړتیا کنټرول، د شور او ارتعاش کمول، د خاورې ساتنه، د ټرافیک مدیریت، د کارکوونکو خوندیتوب، د ساري ناروغیو مخنیوی، او د نباتاتو او حیواناتو ساتنه شامل دي.

د ظرفیت جوړونې او روزنې برخه د ESMP د مؤثر تطبیق لپاره د پروژې کارکوونکو مهارتونه او چاپېریالي پوهاوی زیاتوي. په دې کې د قراردادي کارکوونکو او د پروژې اړخ متخصصینو لپاره ځانګړې روزنیزې برنامې شاملې دي. د ادارو واضح چوکاټ هم ټاکل شوی چې پکې د پروژې د تطبیق واحد (PIU)، د سوپرویژن کنسلټنټ چاپېریالي او ټولنیز متخصصین، د قراردادي E&S متخصص، او د خیبر پښتونخوا چاپېریال ساتنې اداره (EPA) د تنظیمي ادارې په توګه شامل دي. د راپور ورکولو یو جامع چوکاټ هم جوړ شوی چې د شفافیت، حساب ورکونې او پر وخت اړیکې تضمین کوي.

د ESMP د چاپېریالي او ټولنیزو اقداماتو د پلي کولو لپاره ټولټال 12,121,960 پاکستاني روپۍ بودیجه ټاکل شوې ده، چې پکې د خطر کمولو تدابیر، د GRM عملیات، د ټولنې ګډون او څارنه شامل دي. دا مربوطه ستراتیژي د پروژې په ټول ژوند کې پایدارۍ، ټولنیز شمولیت او شفافیت ته لومړیتوب ورکوي.